# انلاين ژورناليزم

په انلاين ژورناليزم کې د نويو لغتونو کارول يو څه اسان او ژر عامددلی شي. سرټکي بايد لنډ، روښان او زړه راښکونکي وي. انځورونه بايد شرحه شي. انلاين ژورنالسست د خپلو نورو همکارانو پرتله لا ډرر کار او دقت ته اړتيا لري.




تر خپلو مخاطبانوټک رسددل او په بللا بللو ډولونو د يوه مطلب ّمتو کول ښايي له ورځپاڼ،، راديو او تلويزيون سره د انلاين تر ټولو مهم توپيرونه وبولو.

خو د اينټرنيټ او کمپيوټر په ټيکنالوژۍ کې ورځ په ورځ بدلونونو ته په پام سره شک نشتهِ ې د انلاين ژورناليزم او د نورو دوديزو رسنيو تر منځ به توپيرونه لا ډير وينو.

د خواله د رسنيو ( فيسبوک، ټيوټر او نورو) عامددل او د خلکو د سملاسي غبرګون څرګنددل په دې مانا ديِ ې د انلاين ژورناليست د يوه مطلب په ليکلو او خپرولو بسنه نه شي کولی.

د انلاین په لیکلي مطلب کې کاریدونکی نثر له فني پلوه هغسې دی ،ې په راډیو، تلویزیون او ورځپاڼه کې يې وینو.

خو ځینې شیان په انلاین کې د نورو  پرتله په بل ډول وړاندې کیږي. د ساري په توګه د ورځو یادول، د وخت یادول او د شمیرو لیکل په انلاین کې له نورو سره توپیر کوي.

علت يې هم دا دی ،ې انلاین مطلب د نړۍ په لر وبر کې خلک ویني. که موږ په لندن کې د شنبې ورځ یادوو په استرالیا کې ښايي یکشنبه وي او په کلیفورنیا کې لا د جمعې ورځ بشپړه شوې نه وي.

په همدې دلیل غوره دا بلل شوې ،ې ورسره نېټه ولیکو. په راډیو، ورځپاڼې او تلویزیون کې دې ته ډېره اړتیا نشته.

د انلاین  مطلب لیکلو لپاره دا هم غوره بلل شوي ،ې هره جمله له بلې په واټن کې راشي.

په ورځپاڼه کې داسې نه وي. د انلاین کاروونکو په برخه کې پلټنو او څېړنو دا ښوولې ،ې د کمپیوټر له ښیښې څخه ګڼ او تت متن په عذابوونکی وي.

دغه راز دا ورسره تړلې ده ،ې لوستونکی ښايي ځینې جملې ترې پریږدي. لکه په همدې متن کې ،ې يې وینئ، هره جمله باید له بلې په واټن کې راشي.

په انلاین ژورنالیزم کې وخت هم لکه د ورځې په څېر باید دقیق ولیکل شي.

که ،ررې موږ وایو ،ې په کندهار کې د شنبې په ورځ پر اته بجې فوټبال لوبه پیلږږي، نو زه ،ې په لندن کې ناست یم په دوو خبرو پوی نه شوم، یو دا ،ې دغه اته بجې د سهار دي که د ماښام. په نوره نړۍ کې عموماً لوبې ماښام کیږي.

بله خبره پکې دا ده ،ې ایا دا د کندهار وخت دی که د لندن وخت. غوره به دا وي ،ې دغه جمله داسې ووایو:

په کندهار کې به د شنبې په ورځ ( نېټه ) په ځایي وخت د ماښام په اته بجې فوټبال لوبه کیږي.

د شمیرو په برخه کې هم د انلاین استادان لارښوونه کوي ،ې په کلماتو باید ونه لیکل شي بلکې ارقام باید و کاروو.

د بېلګې په توګه که وایو ،ې دوه زره اتم کال، غوره به دا وي ،ې داسې يې ولیکو : ۲۰۰۸ کال.

دلیل دا ورته راوړل شوی ِ په کلماتو لیکل شوې شمیره ګواکې وار له واره ذهن ته نه سپارل کیږي، سترګې له عدد سره ښايي ډيرې بلدې وي.

دغه راز په یوۀ متن کې په کلماتو لیکل شوې شمرره له ورایه نه ښکاري خو په ارقامو لیکل شوې شمرره ښايي له لررې وبرښښي.

د راډيو او تلویزیون  پرتله په انلاین ژورنالیزم کې د نویو لغتونو کارول یو څه اسان او ژر عامددلی شي.

د ۲۰۰٤ کال په پای کې ِ په سمندر کې د شوې زلزلې له امله پارددلو څپو اندون‌ززیا، هند او سرلِ‌لانکا وځپل، دغو طغیاني شویو څپو ته په جاپاني ژبه څونامي ویل کددل ِ نورو ژبو هم ورته کاراوۀ.

په پښتو کې مو هم نوی لغت نه لارۀ. ښايې په لومړي ځل په راډيو کې د څونامي مانا په یوه جمله کې ویل شوې وي خو وروسته یوازې څونامي ویل کددل.

ورځپاڼو او تلویزیونونو هم دې ته ورته کار کړی دی. اوس پښتو ژبې ژورنالیستان په دې باور دي ِ په څونامي باندې ټول پوهېږي.

که ونه هم پوهېږي هر وار په درو جملو کې د یوۀ لغت تشریح کول نه د راډيو د محدود وخت په توان کې دي او نه هم د ورځپاڼې کالمونه دغه کار غوره بولي.

په انلاین کې شاید په لومړي ځل دغه توری تعریف شي خو ورسره د تککنالوژۍ په مټ د انلاین ژورنالیست د څونامي لغت ځلولی یا روښانولی شي.

کاروونکی که وغواړي نو دغه ځلیدلی توری ککارولی شي. دغه ډول دی یوۀ قاموس ته او د قاموس هغې برخې ته تللی شي ِ د څونامي بشپړه مانا او بیلګې پکې ووینې.

دغه ډول کار په نورو برخو، راډيو، ورځپاڼې او تلویزیون کې ممکن نه دی. شاید همدا اسانتیا د ان لاین ژورنالیست ته د ژبې په کارولو کې تر نورو رسنیو کار اسانه کړي.

**سرټکي**

د خبر یا رپوټ لپاره نوم یا سرټکی په راډيو او تلویزیون کې د اوریدونکي یا لیدونکي لپاره هغومره جوت نه وي لکه په ورځپاڼه او ان لاین ژورنالیزم کې ِ يې وینو.

په ورځپاڼه کې که د یوۀ مطلب لومړنی عنوان لوی وي ، که دوه یا درې نور واړه عنوانه هم ولري عیب نه دی . خو په ان لاین کې لومړنی عنوان یا هیډلاین یو او هغه

هم خورا کوټنی باید وي.

د محدودیت په سر يې بله ستونزه دا ده ِې باید په همدې لړو ټکو کې پوره مطلب ځای شي او suspense یا تلوسه

هم ولريِ ې لیدونکی يې پرانیستلو ته وهڅوي.

د ۲۰۰۷ کال د جولای په میاشت کې ِې د سکاټلن ډ د ګلاسګو پر هوايي ډګر د برید په تور دوه کسان ونیول شول هغوی دواړه ډاکټران وو.

وروسته له هغې پ ښ ښ ې سره د ت ړاو په تور نیول شوي شپږ نور کسان هم یا ډاکټران وو او یا يې هم له روغتیا سره په ت ړاو کار درلود. ځینو برتانوي رسنیو دغه خبر ته داسې سرټکی غوره ک ړی و:

**د مرګ ډاکټران**

په دغه سرټکي کې پ ټ طنز نغ ښ تی و. ډاکټ ر د انسان د رغولو په هڅه کې وي له مرګه يې را ګرځوي خو دغو ډاکټرانو ِې ګواکې د انسانانو د وژلو نیت لارهٔ د درملنې پر ځای د وژن ې ډاکټران بلل شوي و.

په افغانستان کې ِې کله وسله والو طالبانو واک ترلاسه ک ړ او پر تلویزیونونو باندې يې بندیز ولګاوهٔ د بي بي سي د ان ګریزي وب پا ڼې عنوان داسې و:

**Taliban TV ban**

په دغه عنوان کې یو ډول تجنیس وینو. ټي وي طبعآ تلویزیون ته وايي او بن په ان ګریزي کې بندیز دی خو طالبان هم په غو ړ داسې ل ګیږي لکه ټي وي بن.

په دغو دواړو ب ل ل ګو کې دا وینوِ ې نه یوازې عنواین وا ړهٔ دي، بلکې مانا هم ورکوي، پ ټ طنز پکې نغ ښ ت ې دي او تلوسه هم پیدا کوي.

د سرټکي لیکلو لپاره انلاین ژورنالیست ته عمومآ دغه څو و ړاندیزونه ک ړ ږي:

۱: لن ډ سرټکي ، د ان لاین کاروونکو په باب سروې په ګوته کوي ِې د ان لاین کارونکي لن ډ خو ژر راک ښ ونکي عنوانونه جلبولی شي. که سرټکي لوی وي او ژر جلبونکي نه وي ښ ايي لیدونکی اصلآ د مطلب د پرانیستلو هڅه ونه ک ړي.

۲: دومره لن ډ هم نه ِې هیڅ مانا یا ارز ښ ت ونه لري . له لن ډ سرټکي څخه مطلب دا هم نه دی ِې سرټکي ب ې مانا شي. د سارې په توګه ((د پ ښ ښ ور د پ ش شه ورو پ ښ ښ ه )) لن ډ سرټکی دی ، تجنیس لري ، خندونکی دی، تلوسه هم لري خو بشپ ړ

يې نه شو بللی . دغه سرټکي دا نه وايي،ې د څه شي پښښه او په څه شوې.

یا: (( کرزی په افغانستان کې )) دا هم بشپړ نه شو بللی. دا سرټکی ښايي دا مانا ورکړيږې ولسمشر کرزی په افغانستان کی دی. يا دا وي،ې په افغانستان کې د دۀ واکمن،ی ته کتنه کوو.

د همدې دواړو مطالبو لپاره لنډ خو بشپړ عناوین ښايي داسې وي:

(( پښشه ورو په پښښور کې کاربندي وکړه)) دا عنوان بشپړ دی، دلته بیا هم تجنیس شته، خبره معلومه ده،ې څه شوي دي او،ررې شوي دي.

دویم عنوان: کرزي وطن ته په ستنیدا بدلونونه اعلان کړل

دا عنوان هم بشپړ، لنډ او مطلب رسونکی دی.

په ۲۰۰۷ کال کې،ې د یوې هندي فلمي ستورې اشوارا رای د وادۀ خبر خپور شو نو د بې بې سي پښتو وبپاڼې د دې انځوریز خبر خپور کړ او داسې عنوان يې ورته وټاکۀ:

د پ‌غلو مشره يې وادۀ کړه.

دا عنوان ډیر لنډ دی، د پ‌غلو د مشرې په ولو ډیره تلوسه پیدا شو،، په عین حال کې پټ طنز هم پکې نغښتی دی. کیدای شي څوک ووايي،ې د ستورې نوم نشته شاید بشپړ يې ونه بولو خو له دغه عنوان سره د اغلې رای عکس و،ې د هغې په مټ يې بشپړ بللی شو.

۳: د اصلي مطلب کو د دې را ټول شي خو باید په ډررو جزییاتو کې نه وي. د ان لاین ژورنالیزم استادان د یوۀ ښه سرټکي یوه بله ښګګڼه په دې کې ويني،ې د ټول مطلب خلاصه پکې نغښتل شوې وي.

خو د دې مانا دا نه ده،ې دومره جزییات دې ولري،ې لوستونکی د نور مطلب له لوستو راوګرځوي.

٤: له کلیشو باید ځان وساتل شي. هره هغه خبره کلیشه ده،ې تکرار شي. که د طالبان ټيلې بن خبره په دویم ځل وشي تکرار ده، که د پ‌شه ورو په پښښور کې بيا بیا ووایو خوند يې ځي.

۵: پچّلي یا ژر نه پوه‌ددونکي سرټکي دې نه وي. هغه عنوان،ې لوستونکی ژر مطلب ته ونه رسوي په ان لاین کې بریالی نه دی.

**د عکسونو شرح**

د اینټرنټ نړیوال جال نژدې ۱۵۰ کاله تر هغه وروسته پیدا شوې په کامرو باندې عکس اخیستل نه یوازې عام شوي و بلکې په ګڼ شمېر کې د عکسونو چاپول هم دود و.

خو عکس او ژورنالیزم خورا اوږده سابقه لري . په انګلستان کې د ۱۹ پېړۍ ورځپاڼې د انګلیس افغان جګړو عکسونه نه لرل خو د هغو انځورګرانو انځورونه یې خپرول چې کندهار ته یې استولي و.

د هغو انځورونو شرحې او اوس په انټرنټ د خپردونکو عکسونوشرحه په اصولو کې سره توپیر نه لري.

د بي بي سي د ان لاین ژورنالیزم استادان وایي (( یو عکس د زرو تورو یا کلماتو ځای نیولی شي ))

ښه عکس ښایي د زرو کیسو کیسه هم وکړي. خو دغه ټولې کیسې پر یوې خرابې شرحې بې خونده کېږي.

د عکس لپاره کمزورې شرح د ډېرو په ګومان هغه ده چې هغه څه ووایي چې عکس یې لیدونکي ته ورښکاروي.

د سارې په توګه که ولسمشر کرزی له ولسمشر اوباما سره روغبړ کوي او تر لاندې ورته ولیکل شي ((: ولسشمر کرزی له ولسمشراوباما سره روغبړ کوي )) دا طبعآ معلومه خبره ده او د لیدونکي پر معلوماتو څه نه ورزیاتوي. په همدې دلیل دعکس لیدونکي ته هم دغه ډول شرح ارزښت نه لري.

د عکس لپاره د یوې ښې شرحې په ځانګړتیاو کې لنډوالی هم تل یاد شوی دی. اوږده شرحه په تېره بیا د ان لاین لپاره زړه تنګونکې بلل شوې ده.

ان لاین ژورنالیست د ورځپاڼې، راډیو او تلویزیون په پرتله ژر خبر خپرولی شي خو ډېر کله عکس هغومره ژر نه ور رسېږي لکه رپوټ او خبرې ور رسېدلی وي.

که د پښښور د پیشه ورو له اعتصابه د ان لاین ژورنالیست خبر شي نو سملاسي لیکلی شي چې څه وشول،ېرې وشول او ولې وشول؟ خو عکس همدومره ژر نه شي موندلی، او که یې وهم مومي تر هغو چې یې که یا سایز برابروي وخت پرې لګېږي.

وبپاڼې عموماً په داسې حالت کې زاړهٔ عکسونه، د سیمې نقشې او یا یو بل داسې څه کاروي چې د پښښور د اعتصاب یا کارګرو تصویر لیدونکي ته ورکړي.

که ړرې څوک د یوې بلې ورته پښښې عکس خپروي نو باید دا یادونه وشي چې (( د

یوې پخوانۍ پښښې عکس وینئ ))

دا کار ټیکنالوژۍ د ان لاین ژورنالیست لپاره خورا اسانه کړی دی. که ّیرې په یوې وبپاڼې کې پر عکس غشی یا کرسر کېږدئ نو د عکس په باب یو څه درته لیکي.

که ِررې د ولسمشر کرزي عکس وي او تاسو پرې غشی کيږدئ نو درته وبه لیکيِ ې ( کرزی یا ولسمشر حامد کرزی یا حامد کرزی ) دغه کار ټولې وبپاڼې نه کوي خو که ويې کړي د یوهٔ پخواني عکس یادونه په همدې ډول ښه کولی شي.

په ان لاین ژورنالیزم کې ( انځوریز ریوټونه ) ( د ورځې عکس ) ( اوونۍ په عکسونو کې ) او دې ته ورته ځینې نورې برخې عامې شوي ديِ ې خورا ډرر لیدونکي لري. دغه ډول پاڼې د عکسونو په مټ بشپړ ریوټ خپروي.

ان لاین ژورنالیست له ټولو اسانتیاوو سره سره د ورځپاڼ،، راډیو او ټلوززیون په پرتله له سختې سیالۍ سره مخامخ دی.

که دی په ټیکنالوژۍ ځان پوه نه کړي، له تجربو زده کړه ونه کړي، د انټرنټ کاروونکي ته خپل مطلب په ښه توګه وړاندې نه کړي دا امکان ډرر دیِ ې ګاللې خواري به يې بریالۍ نه وي.

ورځپاڼه ، راډیو او ټلوززیون ښايي په څنډ وپوهېږيِ ې لوستونکي، اورددونکي او لیدونکي يې مخ په کمېدو دي خو ان لاین ژورنالیست د ټکنالوژۍ په مټ هره شېبه دا معلومات تر لاسه کولی شيِ ې کاروونکي يې ډرر شول که مخ يې ترې واړاوهٔ.

په همدې دلیل د ان لاین ژورنالیست د خپلو نورو همکارانو په پرتله لا ډرر کار او دقت ته اړتیا لري.